قرآني بيان

# د سلام د هغه
# جواب په برکت

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ إسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 15 منۍ، کال 2026ء (بمطابق: 27 ذُوالقعده شريف، کال 1447ھ)

د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 15 مئي، کال 2026ء (بمطابق: 27 ذُو القعده شريف، کال 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د سلام د هغه جواب پهٔ برکت

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- 10 برکتې ورځې
- انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام ژوندي دي
- د قبر انور نه لاس مُبارک راښکاره شو (واقعه)
- سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرې ډوډۍ وخوړله (واقعه)

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم:

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ فِيْ يَوْمٍ خَمْسِيْنَ مَرَّةً صَافَحْتُهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په ما باندې په ورځ كښې 50 كرته دُرُود ولولي، د قيامت په ورځ به زۀ د هغۀ سره لاس ميلاؤهم۔ (1)

ازل کے دن سے مرے مصطفیٰ کے چرچے ہیں
تمام دہر پہ رحمت درودِ پاک سے ہے
بروزِ حشر وہ ہو گا نبی کی قربت میں
جہاں میں جس کو بھی اُلفت درودِ پاک سے ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... القول البديع، الباب الاول فى ثواب الصلاة على رسول الله صَلَّى اللهُ عليه وآله وسلّم، صفحه: 141۔

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَ اِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَ اَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵۴﴾

(پاره: 7، سورة الانعام: 54)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صلّى الله عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او چې کله ستا په دربار کښې هٰغه خلق حاضر شي کوم چې زمونږ په آيتونو ايمان راوړي نو هغوئي ته وفرمايه: ”په تاسو دې سلام وي“ ستاسو رب په خپله ذمهٔ کرم باندې رحمت لازم کړے دے چې که ستاسو نه څوک د نادانۍ په وجه څهٔ بدي اوکړي، بيا د هغې نه پس توبه اوکړي او خپله اِصلاح اوکړي نو بے شکه الله بخښونکے، مهربانه دے۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## 10 برکتي ورځې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ډيره د فضيلت والا مياشت د ذو الحج مياشت تشريف راوړونکې ده، دا مبارکه مياشت ډيره د عظمت والا، ډيره د فضيلت والا ده۔ په حديثِ پاک کښې دي: سَيِّدُ الشُّهُوْرِ رَمَضَانُ، وَاَعْظَمُهَا حُرْمَةً ذُو الْحِجَّةِ يعنې د مياشتو سرداره د رمضان مياشت ده او د حرمت او د عزت په لحاظ سره د عظمت والا مياشت ذو الحج

شريف ده۔ [1]

حضرت کعبُ الاحبار رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي: الله پاک زمانه اِختيار کړه، بس د الله پاک پهٔ نزد د ټولو نه محبوبه زمانه د حُرمت والا 4 مياشتې (ذُو القعده، ذُو الحج، مُحرم او رَجَب) دي، پهٔ دې مياشتو کښې د الله پاک پهٔ نزد د ټولو نه محبوبه ذوالحج شريف ده او پهٔ ذو الحج شريف کښې د دې وړومبۍ 10 ورځې (کومو ته چې عشرهٔ ذو الحج وئيلے کيږي، دا) د الله پاک پهٔ نزد د ټولو نه محبوبې ورځې دي۔ [2]

سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د عشرهٔ ذِي الحج وړومبۍ 10 ورځې ډيرې د برکت والا دي، دا د الله پاک پهٔ نزد ډيرې محبوبې ورځې دي، د دې پورې چې الله پاک پهٔ قرآنِ مجيد کښې د دې ورځو قَسم اِرشاد فرمائيلے دے، اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ الْفَجْرِۙ(۱) وَ لَیَالٍ عَشْرٍۙ(۲)<br>(پاره:30، سورة الفجر:21) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د سحر قَسَم۔ او د لسو شپو۔ |

د يو قول مطابق: پهٔ دې آيت کښې د ذِکر کړے شوو 10 شپو نه د ذُو الحج وړومبۍ 10 شپې مُراد دي۔ [3] معلومه شوه چې د ذُو الحج وړومبۍ 10 شپې ډيرې د فضيلت والا دي چې الله پاک د دې قَسم اِرشاد فرمائيلے دے۔

---

1 … شعب الايمان، باب فی الصيام، جلد:3، صفحه:355، حديث:3755 ملتقطاً۔

2 … شعب الايمان، باب فی الصيام، جلد:3، صفحه:350، حديث:3740۔

3 … تفسير قرطبی، سورۂ فجر، زير آيت:2، جلد:30، صفحه:24۔

حج کا مہینا آیا، ماہِ حَرام آیا　　طیبہ کی یاد لایا، ماہِ حَرام آیا
آئی ہیں اس کی قسمیں، قرآں کی آیتوں میں　　رَبّ کو ہمارے بھایا، ماہِ حَرام آیا

**وضاحت:** ماهِ حرام: يعنې د عزت او د حُرمت والا مياشت-

پهٔ **حديث شريف** کښې دي: **اَلْعَمَلُ فِيهِنَّ يُضَاعَفُ سَبْعُ مِئَةِ ضِعْفٍ** پهٔ دې 10 ورځو کښې د نيکۍ ثواب 700 چنده زياتولے شي- (1)

د **ترمذي شريف** پهٔ روايت کښې دي: نبىءِ اَکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **مَا مِنْ اَيَّامٍ اَحَبُّ اِلَى اللهِ اَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ عَشْرِ ذِى الْحِجَّةِ** يعنې پهٔ عشرهٔ ذِي الحج کښې عبادت کول، د الله پاک پهٔ نزد د عامو ورځو پهٔ نسبت زيات محبوب دے **يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ يَوْمٍ مِّنْهَا بِصِيَامِ سَنَةٍ** پهٔ دې ورځو کښې د يوې ورځې روژه د يو کال د روژو برابر ده **وَقِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ مِّنْهَا بِقِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ** او د دې ورځو د هرې شپې قيام (يعنې ويښ پاتې کيدل او عبادت کول) د شبِ قدر د قيام برابر دے- (2)

ہر ہر گھڑی ہے اس کی عِزّو فَضَل میں یکتا　　بادِل کرم کا چھایا، ماہِ حرام آیا
بڑھتی ہیں اس میں قدریں، نیکی کی یاد رکھنا!　　کرنا نہ وقت ضائع، ماہِ حرام آیا

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** غور اوکړئ چې خومره ښکلې او د فضيلت والا

---

[1]… شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحه:356، حدیث:3757۔

[2]… ترمذی، کتاب الصوم، باب ما جاء فی العمل، صفحه:211، حدیث:758۔

ورځې دي ◈ خومره عظيمې شپې دي ◈ پهٔ دې شپو کښې د يوې نيکۍ ثواب 700 چنده زياتولے شي ◈ پهٔ دې ورځو کښې نيکي کول افضله نيکي ده ◈ پهٔ دې ورځو کښې د يوې ورځې روژه نيول د يو کال د روژو برابر ده ◈ د دې ورځو پهٔ شپو کښې قيام کول (يعنې د شپې ويښ پاتې کيدل او عبادت کول) پهٔ شبِ قدر کښې د عبادت کولو برابر دے۔ الله پاک دې مونږ ته د دې مبارکې مياشتې، د دې د برکتي ورځو د ښه ډير قدر کولو، پهٔ دې کښې د زياتو نه د زياتو نيکو کولو، تِلاوت کولو، د دُرُودِ پاک د لوستلو، د الله پاک د ذِکر کولو، د نفلونو کولو او د نورو نيک کارونو د کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د آيت مبارک خُلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ پهٔ شروع کښې د 7 سيپارې، د سورۂ اَنعَام د آيت: 54 د اوريدو سعادت حاصل کړو، ډير اِيمان تازه کوونکے آيت مبارک دے، هُغه خوش قِسمته کوم چې د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې حاضريږي، پهٔ دې آيت مبارک کښې هُغه خوش قِسمتو ته د ميلاؤيدونکو اِنعامونو ذِکر شوے دے۔

هسې خو د محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عطاګانې خو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! هر وخت جاري دي، د هر چا نصيب کيږي۔ سيدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي:

لَا وَرَبِّ الْعَرْش جس کو جو مِلا اُن سے مِلا
بٹتی ہے کَونین میں نعمت رسولُ اللہ کی[1]

وضاحت: په حديث شريف کښې دي: اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَاللہُ یُعۡطِیۡ يعنې زۀ تقسيموونکے يم، الله پاک عطا کوونکے دے۔[2] اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دې حديثِ پاک ته اِشاره کوي او فرمائي: د عرشِ اعظم په رَبّ مې دې قَسم وي! چا ته چې څۀ هم ميلاؤ شوي دي، هُم د محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ميلاؤ شوي دي، په دواړو جهانو کښې چې کوم نعمتونه تقسيميږي، هُم زمونږ د آقا، د دواړو جهانو د داتا صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم برکت دے۔

دا خو هُغه نعمتونه دي کوم چې هر يو ته ميلاؤيږي، بيا چې څوک دربارِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شي، د هغۀ په باره کښې دستور دا دے چې د هغوئي په عطاګانو کښې بالکل کمے نشته، څوک چې څۀ، د خپل ظَرف (لوښي) مطابق اِنعام مومي، چا عاشق وئيلي وو:

کوئی مَنصُور، کوئی بَن کے غَزالی آئے
ان کے دربار سے ہو کر جو سُوالی آئے

يعنې د رسولِ ذِيشان صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دربار هُغه دے چې ◈ هلته منصور لاړ شي نو اِمام مَنصُور ترې واپس راځي ◈ محمد بن محمد چې لاړ شي نو اِمام **محمد غزالي** ترې او

---

1 ... حدائقِ بخشش، صفحه:152۔

2 ... مسند ابی یعلیٰ، مسند ابی ہریرۃ، جلد:4، صفحه:389، حدیث:5847۔

واپس کيږي ◈ حَسن سَنجري چي لا ړ شي نو **خواجه مُعِين الدِّين** ترې واپس اخئي ◈ احمد رضا چې لا ړ شي نو **اِمامِ اهلسُنَّت** ترې واپس راخئي، غرض دا چې د چا څومره ظَرف دے، څومره لوښے دے، هم هُغه همره عطاګانې اخلي، خپلې جولۍ ډکوي او راواپس کيږي۔

دا هُغه عطاګانې دي کومې چې د ظرف مطابق ميلاؤيږي، د دې سره ډيرې عطاګانې هُغه دي چې څوک هم څئي، د هغهٔ نصيب کيږي، پهٔ دې کښې د افرادو تقسيم نشته ◈ که د وخت غوث لا ړ شي نو هغهٔ ته به هم هُغه اِنعام ميلاؤيږي ◈ که ډير ګنهګار لا ړ شي نو هغهٔ ته به هم هُغه اِنعام ميلاؤيږي ◈ که مالداره لا ړ شي ◈ غريب لا ړ شي ◈ فقير لا ړ شي ◈ رئيس لا ړ شي ◈ که بادشاه او که ◈ غلام څوک چې هم دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته رسيږي، هغه اِنعام ضرور مومي۔ دا چې کوم اِنعامونه دي کوم چې د دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه هر يو ته ميلاؤيږي، پهٔ دې اِنعامونو کښې د يو څو انعامونو پهٔ آيت مبارک کښې ذِکر شوے دے، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اِذَا جَآءَكَ<br>(پاره: 7، سورۂ الانعام: 54) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او چې کله ستا پهٔ دربار کښې هُغه خلق حاضر شي۔ |

څوک؟

| | |
|---|---|
| الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا<br>(پاره: 7، الانعام: 54) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: کوم چې زمونږ پهٔ آيتونو ايمان راوړي۔ |

يعنې که راتلونکے ◈ مؤمِن وي، کافِر نهٔ وي ◈ عاشقِ رسول وي، منافق نهٔ وي ◈ د چا عقيدې چې ربنتونې وي ◈ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګستاخ نهٔ وي ◈ نهٔ د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ګستاخ وي ◈ نهٔ د اوليائے کرامو بے ادبي کوونکے وي ◈ خومره اِسلامي عقيدې چې دي، د ټولو منونکے وي- هغه چې کله دربارِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضر شي نو څهٔ به ميلاوېږي؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَقُلۡ<br>(پاره: 7، سورۂ الانعام: 54) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو هغوئي ته وفرمايه- |

يعنې اے مَحْبُوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم !ستاسو کوم ربنتونے غلام هم راشي، هغهٔ ته وفرمايئ:

| | |
|---|---|
| سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ<br>(پاره: 7، سورۂ الانعام: 54) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پهٔ تاسو دې سلام وي- |

دا وړومبے اِنعام دے- عُلَمائے کرامو د دې دوه معنې بيان کړې دي: **(1)**: يو خو دا چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راتلونکو غلامانو ته سلام اِرشاد کوي **(2)**: دويمه معنیٰ دا ده چې سلام د رَبّ دے او رَبِّ کريم نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته فرمائيلي دي چې اے خوږه مَحْبُوبه! ستاسو غلامان چې کله هم ستاسو پهٔ خِدمت کښې حاضر شي، تاسو زمونږ سلام هغوئي ته ورسوئ-[1]

---

[1]... تفسير بيضاوی مع حاشيه شيخ زاده، پاره:7، سورۂ انعام، زيرِ آيت:54، جلد:4، صفحه:53۔

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے، څومره لوئي اِنعام دے، اِنسان چې دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ورسيږي نو د رَبِّ رحمان سَلام يې نصيب کيږي۔

بُلاتے ہیں اُسی کو جس کی بگڑی یہ بناتے ہیں
کمر بندھنا دیارِ طیبہ کو کُھلنا ہے قسمت کا[1]

وضاحت: يعني مدينے ته د بللو پيغام ميلاؤيږي هم هغه چا ته، د چا وراني چارې چې جوړيدونکې وي، کله چې اِنسان د مدينے د سفر تياري اوکړه، پوهه شئ چې بخت يې رابيدار شوے دے۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا وړومبے اِنعام وو، الله پاک نور فرمائي:

| | |
|---|---|
| كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ (پاره: 7، سورۀ الانعام: 54) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ستاسو رب پۀ خپله ذمۀ کرم باندې رحمت لازم کړے دے۔ |

دا دويم اِنعام دے چې کله اِنسان دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ورسيږي نو هغۀ له زيرے ورکړے کيږي چې الله پاک رحمت پۀ خپل ذِمۀ کرم باندې لازم کړے دے۔

[1]... ذوقِ نعت، صفحه: 37۔

اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَ اَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵۴﴾ (پاره: 7، سورهٔ الانعام: 54)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې که ستاسو نه څوک د نادانۍ په وجه څۀ بدي اوکړي، بيا د هغې نه پس توبه اوکړي او خپله اِصلاح اوکړي نو بے شکه الله بخښونکے، مهربانه دے۔

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو دربار ته راتلونکو غلامانو ته وفرمايئ چې ستاسو نه پهٔ نادانۍ کښې يا پهٔ نا پوهۍ کښې چې څومره هم ګناهونه شوي دي، که هر څومره لوئې لوئې ګناهونه ولې نهٔ وي شوي، اوس به تاسو ته رحمت ميلاؤيږي، د رَبّ پهٔ دربار کښې توبه وکړئ او صحيح شئ! الله پاک به مو ټول ګناهونه معاف کړي۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څومره ښکلے شان دے---!! رحمتونه د رَبّ دي، ميلاؤيږي د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دَر نه۔ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

وہی رَبّ ہے جس نے تجھ کو ہمہ تَن کرم بنایا
ہمیں بھیک مانگنے کو تیرا آستاں بتایا
تجھے حمد ہے خُدایا

تمہیں حاکِمِ بَرَایا، تمہیں قاسِمِ عَطَایا
تمہیں دافِعِ بَلایا، تمہیں شافِعِ خَطَایا
کوئی تم سا کون آیا (2)

**وضاحت:** هم الله پاک دے، کوم چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سراسر کرم

---

[1] ...تفسير نعيمی، پاره:7، سورهٔ انعام، زير آيت:54، جلد:7، صفحه:438۔

[2] ...حدائقِ بخشش، صفحه:363۔

جوړ کړے دے، هم هُغه رَبّ دے، کوم چې مونږ غلامانو ته د سوال کولو د پاره د هغوئي دَر ته د حاضرۍ کولو حکم فرمائيلے دے، اے الله پاکه! ستا د پاره حمد دے- اے محبوبِ ذِيشانه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ◈ تاسو د ټول مخلوق حاکِم هم يئ ◈ ټولو ته نعمتونه ورکوونکي هم يئ ◈ مشکلات ختموونکي هم يئ او ◈ د ګنهګارانو شفاعت کوونکي او بخښونکي هُم تاسو يئ- ستاسو پهٔ شان څوک هم نشته-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ دې آيت مبارک کښې واضحه فرمائيلے شوي دي چې څوک د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم در ته ورسيږي، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ته سلام اِرشاد کوي، يا خو د خپل طرف نه د سلامتيا دُعا کوي يا د رَبِّ رحمان سلام رسوي او څوک چې دې پاک دَر ته راورسيږي نو د رحمتونو سوري ته راشي-

ہر سمت رحمتوں کی برسات ہو رہی ہے

ہے رحمتوں کا دریا سرکار کا مدینہ [1]

کيدے شي چې يوه پوښتنه ذِهن ته راځي، هغه دا چې آيت مبارک هُغه وخت نازل شوے کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري ژوند سره پهٔ دې دُنيا کښې تشريف فرما وو،لهذا دا چې کومه د سلام کولو خبره ده، د رحمتونو

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:357۔

میلاؤیدو خبره ده، دا خو د ظاهري ژوند سره تړلې وه، اوس خو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنیا نه پرده فرمائیلې ده، اوس به دا اِنعامونه مدینے ته پهٔ تللو سره څنګه میلاؤیږي؟

دا یوه شیطاني وسوسه ده، جواب یـې واورئ: وړومبے خو وګورئ چې پهٔ آیت مبارک کښې د وخت او د زمانې هیڅ قید نشته- دا نهٔ دي فرمائیلے شوي چې ◈ اے محبوبه! څوک چې ستاسو پهٔ ظاهري ژوند کښې راشي نو هغهٔ ته سلام وفرمایئ! ◈ یا د 50 کالو پورې دا قانون دے ◈ یا د راتلونکو 100 کالو پورې دا قانون دے او بیا به دا اِنعامونه بند شي- چې پهٔ آیت مبارک کښې داسې څهٔ قید نهٔ دے لګولے شوے نو مونږ د خپل طرف نه داسې قیدونه څنګه لګولے شو؟ هیڅکله یـې نشو لګولے- پهٔ دویم نمبر باندې یو **حدیثِ پاک** واورئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیْم! پوره مسئله به حل شي، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ زَارَ قَبْرِیْ بَعْدَ مَوْتِیْ کَانَ کَمَنْ زَارَنِیْ فِیْ حَیَاتِیْ یعني څوک چې زما د ظاهري وصال نه پس زما مزار ته حاضر شو، هغه داسې دے ګویا هغهٔ چې زما پهٔ ژوند کښې زما زیارت اوکړو- (1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې روضې مبارکې ته حاضري کول، هغه داسې ده چې لکه د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ژوند مبارک کښې د هغوئي پهٔ خدمت مبارک کښې حاضر شي او رَبّ فرمائي: اے محبوبه! چې کوم غلام، رښتونے پوخ مسلمان ستاسو پهٔ خِدمت کښې راشي، هغهٔ ته سلام هم ورسوئ! او د رحمت زیرے ورله هم ورکړئ!

---

[1]… معجم اوسط، من اسمه احمد، جلد:1، صفحه:95، حدیث:287۔

معلومه شوه چې څوک روضې مبارکې ته حاضر شي نو د دې اِنعامونو حقدار به جوړ شي۔

## زۀ د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا له راغلے يم

اِمام حاکِم روايت ليکلے دے، حضرت داؤد بن اَبُو صالِح رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ د دواړو جهانو د سلطان، رحمتِ کون و مکان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دربار مبارک ته خليفه مروان حاضر شو، هغه هلته يو صاحب وليدو چې پۀ قبر مبارک باندې سر ايښودے دے۔ خليفه مروان ته مسئله معلومه نۀ وه، ځکه هغۀ د هٰغه صاحب پۀ څټ باندې لاس کيښودو او وه يې وئيل: تا ته پته ده چې دا تۀ څۀ کوې؟ هٰغه صاحب چې کوم وو، هغوئي فوراً وفرمائيل: آؤ پته ده راته۔ پۀ دې وئيلو سره چې کله هغۀ د خليفه مروان طرف ته مخ راواړولو نو هغه مشهور صحابئ رسول،ميزبانِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت اَبُو اَيُّوب اَنصاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وو۔ هغوئي خليفه پوهه کړو او وه يې فرمائيل: زۀ د رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت مبارک کښې حاضر شوے يم، د څۀ کاڼي خوا له نۀ يم راغلے۔ [1]

عُشّاقِ روضہ سجدے میں سُوئے حَرَم جُھکے
اللہ جانتا ہے کہ نیّت کدھر کی ہے [2]

وضاحت: يعني لکه څنګه چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تقريباً 17 مياشتې د مسجدِ اقصیٰ طرف ته پۀ مخ کولو نـمونځونه اوکړل خو زړۀ يـې غوښتل چې کعبه قبله

---

[1]... مستدرک، کتاب الفتن والملاحم، ابکوا علی الدین اذا ولیه غیر اہله، جلد:5، صفحه:720، حدیث:8618۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:218۔

جوړه کړے شي، نو الله پاک د کعبې د قبلې جوړولو حکم اوکړو- هم داسې چې ځوک د روضې مبارکې عاشقان دي، د هغوئي د زړونو ارمان خو دا دے چې روضه مبارکه د نـمونځ قبله وے خو شريعت کعبه قبله جوړه کړې ده، دې وجې نه هٔغه طرف ته مخ کوي او سجده کوي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان هم دا عقيده وه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضې مبارکې ته حاضري داسې نهٔ ده لکه څنګه چې د خپلو وفات شوو مور او پلار وغيره قبر ته تللے شي، د الله پاک پهٔ فضل سره محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خپل مبارک مزار کښې د دُنيائي ژوند سره ژوندے دے، لکه څنګه چې به يې پهٔ ظاهري ژوند مبارک کښې سلام اوريدو، جواب به يې هم اِرشاد فرمائيلو، هم داسې اوس هم سلام اوري او جواب هم اِرشاد فرمائي-

## انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام ژوندي دي

دا خو باقاعده پهٔ **حديثِ پاک** کښې اِرشاد شوي دي (خُلاصه يې عرض کووم:) صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږ دُرُود لولو، تاسو ته در رسيږي، کله چې به تاسو پهٔ خپل مزار مبارک کښې تشريف فرما يې، بيا به دُرُود څنګه در رسيږي؟ خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَاْكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ، فَنَبِيُّ اللهِ حَيٌّ يُرْزَقُ بے شکه د نبيانو وجودونه خوړل الله پاک پهٔ زمکه

باندې حرام فرمائيلي دي- انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام ژوندي دي، رزق ورکړے کیږي- (1)

تُو زِندہ ہے وَاللہ! تُو زِندہ ہے وَاللہ!
مِرے چَشمِ عالَم سے چُھپ جانے والے (2)

**وضاحت:** يعني پهٔ الله پاک باندې مې دې قَسم وي چې تاسو ژوندي يئ، پهٔ رَبّ مې دې قَسم وي چې تاسو ژوندي يئ- بس د دُنيا د نظرونو نه مو پرده فرمائيلې ده-

## حاضرينو د روضې مبارکې نه د سلام جواب واوريدو

شيخ اَبُو نَصر عبدُ الواحد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ د حج نه فارغ شوم او مديني منورې ته راغلم او روضې مبارکې ته حاضر شوم، د حُجرې مبارکې خوا ته ناست ووم چې حضرت شيخ ابو بکر دِيار بِکري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړلو او د نوراني مخ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخې ته ودريدو او عرض يې اوکړو: اَلسَّلامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ الله! نو ما او ټولو حاضرينو واوريدل چې د روضې مبارکې د دننه نه اواز راغلو: وَعَلَيْكَ السَّلامُ يَا اَبَا بَكْرٍ- (3)

وہ سَلامت رہا قِیامت میں | پڑھ لئے جِس نے دِل سے چار سلام
اُس جَوابِ سلام کے صدقے | تاقِیامت ہوں بے شمار سلام (4)

---

1 ...ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب ذکر وفاته و دفنه صَلَّى اللهُ عليه وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:263، حديث:1637-

2 ...حدائقِ بخشش، صفحه:158-

3 ...الحاوی للفتاویٰ، الفتاویٰ المتعلقة الصوفيه، تنوير الحلک فی امکان...الخ، صفحه:665-

4 ...ذوقِ نعت، صفحه:171 بتقدم وتاخر-

## وَعَلَیکَ السَّلامُ یَا وَلَدِی

سَیِّد نُورُ الدِّین اِیجِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله روضې مبارکې ته حاضر شو نو عرض يې اوکړو: اَلسَّلامُ عَلَيْكَ اَيُّها النَّبِیُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ څومره خلق چې هٔغه وخت حاضر وو، هغوئي ټولو واوريدل چې د روضې مبارکې نه جواب راغلو: وَعَلَيْكَ السَّلامُ يَا وَلَدِیْ (يعنې او پهٔ تا باندې دې هم سلام وي اے زما ځويه!)۔ [1]

تم کو تو غُلاموں سے ہے کچھ ایسی مَحَبَّت
ہے تَرکِ اَدب ورنہ کہیں ہم پہ فِدا ہو! [2]

**وضاحت:** يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو د خپلو غلامانو سره دومره محبت دے، چې دا ادب نهٔ دے کنې مونږ به وئيلے چې تاسو پهٔ خپلو غلامانو باندې عاشق يئ۔

## پهٔ علامه هاشِم ټهټهوي صاحب باندې کرم وشو

شيخ الاسلام علامه محمد هاشِم ټهټهوِي سندهي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله روضې مبارکې ته حاضر شو نو پهٔ دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې يې سلام عرض کړو، د روضې مبارکې نه اواز راغلو: وَعَلَيْكُمُ السَّلامُ يَا مُحَمَّدُ هَاشِمُ الْتَتْوِیْ۔ [3]

---

1... الحاوی للفتاوٰی، الفتاوٰی المتعلقة الصوفيه، تنوير الحلک فی امکان...الخ، صفحه:665۔

2... ذوقِ نعت، صفحه:211۔

3... انوارِ علمائے اہلسنت سندھ، صفحه714۔

اے مَدِینے کے تاجدار سلام | اے غریبوں کے غمگسار سلام
تیری اِک اِک اَدا پر اے پیارے | سو دُرُودَیں فِدا ہزار سلام[1]

## د قبر مبارک نه يـې لاس مبارک رابهر کړو

د شيخ سَيِّد احمد کبير رفاعِي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ واقعه ډيره مشهوره ده، ډيرو زياتو علمائے کرامو پۀ خپلو کتابونو کښې ليکلې ده، واقعه څۀ داسې ده چې حضرت احمد کبير رفاعي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ چې کله د حج نه فارغ شو او پۀ مدينه منوره کښې روضې مبارکې ته حاضر شو نو پۀ عربئ کښې يـې 2 شعرونه ووئيل، د کومو ترجمه چې دا ده: **(1)**: د لرې والي پۀ حالت کښې به ما خپل رُوح ستاسو خِدمت مبارک ته رالیږلو نو هغه به زما نائب جوړيدو او آستانه مبارکه به يـې ښکلوله **(2)**: او اوس د وجود سره د حاضرئ او ميلاؤيدو نمبر راغلے نو خپل لاس مبارک راعطا کړئ چې زۀ د هغې د ښکلولو سعادت حاصل کړم- څنګه چې شعرونه ختم شول نو د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لاس مبارک د قبر نه رابهر شو، سيد احمد کبير رفاعي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د هغې د ښکلولو سعادت حاصل کړو-[2]

واہ کیا جُود و کَرَم ہے شہِ بَطحا تیرا
نہیں سُنتا ہی نہیں مانگنے والا تیرا[3]

---

[1]... ذوقِ نعت، صفحه:170۔

[2]... الحاوی للفتاوٰی، الفتاوٰی المتعلقة الصوفیه، تنویر الحلک فی امکان...الخ، صفحه:665۔

[3]... حدائقِ بخشش، صفحه:15۔

وضاحت: اے د مکے مکرمې بادشاه، ستاسو د سخاوت او د مهربانۍ څومره ښکلې شان دے، ستاسو د دَر اقدس سوالګرې چرې د اِنکار لفظ هم نهٔ دے اوريدلے، همیشه عطا کولے شي، ستاسو دَر مبارک داسې دَر دے چې غوښتونکے چرې هم خالي لاسونه نهٔ واپس کيږي-

## سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوراک راوليږلو

اِمام ابو بکر بِن مُقرِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اِمام طَبراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ، حضرت اَبُو شيخ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او زهٔ، مونږ درې واړه پهٔ مدينه منوره کښې حاضر وو، د 2 ورځو راسې خوراک نهٔ وو ميلاؤ شوے، د لوږې پهٔ وجه ډير خراب شوي وو- کله چې د ماسخوتن وخت شو نو روضې مبارکې ته حاضر شوم او عرض مې اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عليه وَ آلهٖ وَسَلَّم! اَلْجُوْع اَلْجُوْع! يعني اے د الله پاک رسوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! لوږه! لوږه!

ما د دې نه علاوه نور هيڅ هم پهٔ خُله باندې وه نهٔ وئيل او واپس راغلم، زهٔ او اَبُو شيخ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اودهٔ شو او امام طَبراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د چا د راتللو انتظار کولو، پهٔ دې کښې چا زمونږ د کور دروازه وډبوله، مونږ چې وَر لرې کړو نو يو علوي صاحب د خپلو 2 غلامانو سره تشريف راوړلو، د دواړو سره د خوراک نه ډکه يوه يوه شکرۍ وه، هُغه علوي بزرګ ووئيل: کيدے شي چې تاسو صاحبانو پهٔ دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د لوږې شکايت کړے وي ځکه چې زما پهٔ خوب کښې د جنابِ رسالت مآب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، سرورِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو پهٔ باره کښې فرمائيل: پهٔ دوئي باندې ډوډۍ وخوره! بهر حال هغوئي زمونږ سره يو ځائے ډوډۍ وخوړله او څهٔ چې پاتې شول هغه

يـې مونږ.له راکړل او تشريف يـې يوړلو- (1)

سرکار کھلاتے ہیں سرکار پلاتے ہیں | سُلطان و گدا سب کو سرکار نبھاتے ہیں (2)

مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه عرض کوي:

پیتے ہیں تیرے دَر کا کھاتے ہیں تیرے دَر کا
پانی ہے ترا پانی، دَانہ ہے ترا دَانہ (3)

## سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرېـ خوراک وکړو

**خوږوا و محترمو اِسلامي ورونو!** تاسو وکتل چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلو غلامانو ته د کرم نظر فرمائي، په مصيبت کښې د راګېرېدو په حالت کښې د مدد د پاره راځي او په وږو باندې خوراک کوي، په دې باره کښې يوه بله واقعه واورئ، **اِمام يوسُف بن اسماعيل نَبهاني** رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه **ليکلي دي**: شيخ اَبُو عباس احمد بن نفيس تُونِسي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: زۀ يو ځل په مدينه منوره کښې حاضر ووم، ډير وږے شوے ووم، زۀ روضې مبارکې ته حاضر شوم او عرض مې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ وږے يم-

---

[1] … حجة الله على العالمين، الباب الثانى فيما وقع بعد وفاته من ... الخ، الفصل الثالث فى ذكر ... الخ، صفحه:572۔

[2] … وسائلِ بخشش، صفحه:292۔

[3] … سامانِ بخشش، صفحه:169۔

د عرض کولو نه پس زما سترګې ورغلې، لږ ساعت پس چا راپاخولم او ما ته يې د ځان سره د تللو دعوت راکړو، زهٔ د هغوئي سره د هغوئي کور ته لاړم، کوربه کجورې، غوړې او د غنمو ډوډۍ پيش کړه او وه يې وئيل: پهٔ مړهٔ خِيټه خوراک وکړئ ځکه چې ما ته زما جَدِّ امجد، مکي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو د ميلمستيا کولو حکم فرمائيلے دے- بيا دپاره چې کله هم لوږه محسوسوئ نو زمونږ خوا له تشريف راوړئ- [1]

پیتے ہیں تیرے دَر کا کھاتے ہیں تیرے دَر کا
پانی ہے تِرا پانی، دَانہ ہے تِرا دَانہ [2]

او چا عاشِق وئيلي دي:

ہر طرف مدینے میں بِھیڑ ہے فقیروں کی
ایک دینے والا ہے کُل جہاں سُوالی ہے

## پهٔ غړيدلو سترګو يې پرې ديدار اوکړو

د امام اهلِسُنَّت، اِمامِ عشق و محبت، اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه واقعه هم ډيره مشهوره ده، هغوئي پهٔ دويم ځل د حج د پاره حاضر شول، پهٔ زړهٔ کښې يې خواهش وو چې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ غړيدلو سترګو ديدار راعطا

---

[1]... حجة الله على العالمين، الباب الثانی فيما وقع بعد وفاته...الخ، الفصل الثالث فی ذکر ...الخ، صفحه:573-

[2]... سامانِ بخشش، صفحه:169-

کړي- هغوئي په دې ارمان ټوله شپه په مُوَاجَهة شریف (یعنې د شنو جنګلو) مخې ته په درودِ پاک لوستلو تیره کړله خو په دغه شپه یــې دا سعادت په قِسمت کښې نهٔ وو- دویمه شپه راغله، هغوئي د جدایۍ په درد کښې په لړزیدو دا نعت شریف ولیکلو:

وہ سُوئے لالہ زار پھرتے ہیں | تیرے دِن اے بہار پھرتے ہیں[1]

د دې نعمت په اخري شعر کښې هغوئي ووئیل:

کوئی کیوں پوچھے تیری بات رضاؔ | تجھ سے شَیدا ہزار پھرتے ہیں

هغوئي د عاجزۍ په توګه د **شَیدا** په ځائے د ځان د پاره د **کُتے [یعنې د سپي]** لفظ استعمال کړو، بس هم دا عاجزي کول وو چې هُغه وخت پردې لرې شوې، محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غړیدلو سترګو هغوئي ته خپل دیدار عطا کړو-[(2)]

شربتِ دِید نے اور آگ لگا دِی دِل میں
تَپِشِ دِل کو بڑھایا ہے بُجھانے نہ دیا
اب کہاں جائے گا نَقشہ ترا میرے دِل سے
تہ میں رکھا ہے اِسے دِل نے گُمانے نہ دیا
سَجدہ کرتا جو مجھے اِس کی اِجازت ہوتی

---

[1]… حدائقِ بخشش، صفحه:99۔

[2]… حیاتِ اعلیٰ حضرت، جلد:1، صفحه:136 و 137 خلاصةً۔

کیا کروں اِذن مجھے اِس کا خُدا نے نہ دیا[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د بیان خُلاصه دا ده چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم غلام، رښتونے مسلمان، عاشقِ رسول د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې د حاضرۍ سعادت مومي، د هغهٔ دا دوه اِنعامونه نصیب کیږي: (1): خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغهٔ د پاره د سلامتیا دُعا کوي (خوش قِسمته خلق دغه سلام اوري هم) (2): دویم اِنعام دا چې هغهٔ له د رحمت زیرے ورکولے شي- کاش چې الله پاک یې زمونږ هم نصیب کړي، چې بیا بیا مو د مدینے منورې د حاضرۍ سعادت نصیب کیږي- الله پاک دې توفیق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قرباني کلیکشن موبائل ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د عِلمِ دِین د فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: **قرباني کلیکشن** ***(Qurbani Collection)*** ◈ تاسو د دې ایپلي کیشن پهٔ مرسته د لوئي اختر د پاره د دعوتِ اِسلامي لاندې خپله قرباني آن لائن بُک ***(Online book)*** کولے شئ ◈

---

[1] ...سامانِ بخشش، صفحه:71 بتقدم و تاخر-

قرباني د شريعت او د سُنَّت مطابق د کولو د پاره د قربانۍ پهٔ موضوع باندې د دار الافتاء اهلسُنَّت فتوې لوستلے شي او د دار الافتاء اهلسُنَّت د مفتيانو صاحبانو سره پهٔ مشوره کولو دا خبره يقيني کولے شي چې ستاسو قرباني پهٔ سُنَّت طريقه وي ◈ د قربانۍ پهٔ موضوع باندې د اِسلامي سکالرانو ليکلے شوي ډير معلوماتي کتابونه لوستلے شي ◈ دا ايپلي کيشن د قربانۍ کولو د پاره د ګائيډ پهٔ توګه استعمالولے شي ◈ دې نه تاسو د قربانۍ بنيادي تقاضې زده کولے شي لکه د قربانۍ نيت، دُعا، طريقه او ډير څهٔ ◈ نور د مدني عالمانو معلوماتي ويډيوز او آډيو کلپس اوريدے او کتلے هم شي ◈ او د قربانۍ پهٔ باره کښې ويډيوز محفوظ کولے شي- تاسو هم پهٔ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! د دې نه فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان پهٔ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

# صحيح څهٔ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د قربانۍ د څاروي نه فائده اخستل جائز نهٔ ده-

**وضاحت:** الله پاک دې ټولو ته د اِخلاص سره د قربانۍ کولو توفيق ورعطا کړي! يوه مسئله ياده ساتئ چې هغه څاروے کوم چې د قربانۍ د پاره واخستے شو، د هغهٔ نه هر قِسمه فائده اخستل پهٔ شرعي توګه منع ده، د مثال پهٔ توګه ◈ د هغې نه پۍ نشۍ حاصلولے ◈ پهٔ هغې سورلي نشۍ کولے ◈ هغه پهٔ کرايه هم نشۍ ورکولے ◈ د هغې وړۍ نه لرې

کولے او نه يې خرخولے شي وغيره او که داسې قِسمه څۀ فائده د څاروي نه واخستے شوه نو د هغې صدقه کول ضروري دي، مثلاً چا د قربانۍ د څاروي نه پې حاصل کړل نو هغه پې صدقه کړئ يا د هغې قيمت د الله پاک په لار کښې ورکړئ-[1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

### يَا مُقسِطُ (عدل او اِنصاف کوونکے)

که شيطاني وسوسې درځي نو د الله پاک دا ښکلے نوم يَا مُقسِطُ 100 کرته ولولئ اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! د وسوسو نه به نجات حاصل شي-[2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... دار الافتاء اہل سنت، فتویٰ نمبر: Sar7865 خلاصةً-

[2]... مدنی پنج سورہ، صفحہ: 257-